مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسورودان ۲۰۲۴/۰۲/۰۱

# فتوی

ــ مفتي صيب! د يوې مسئلې پوښتنه مې کوله

ــ وايه!

ــ د محلې دوکاندار مې ډير ځوروي. ما د تېرو دوو مياشتو قرض ادار کړی نه دی.
ــ نو غواړې څه وپوښتې؟

ــ لور مې هره ورځ ژاړې، ما د نانځکي راوړلو وعده تر اوسه پوره کړې نه ده.

ــ د مسئلې پوښتنه وکړه!

ــ زما له ښځې جګړه ماره/ جنګېرکه جوړه شوې. له اوږدې مودې راهيسې مو کور کې د دوو وختونو ډوډی نشته.

ــ د پوښتنې خبره څه شي ده؟

ــ د ټولو خبرو ذمه وار خان صيب دی، چې مزدوري راباندې کوي، خو معاش نه راکوي.

ــ په دې ټوله کيسه کې مسئله چيری؟

ــ مسئله دا ده، چې په داسې حالاتو کې خودکشي کول جايز دي که نه؟

سيف الرحمن اديب

ژباړه: سمسور ودان


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ